# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
| --- | --- |

ترتیب کونکی : الحاج داکترامین الدین «سعیدی – سعید افغانی»

۳۰ مارچ ۲۰۲۰

## دنظافت ساتنه په کول په امراضو کی

په دی کی شک نشته چی د خوراک څښاک په مورد کی د ځان ساتني او احتیاط په وجوب داسلام مقدس شرعیت دیر تاکید کړی دی ، پدی هکله ډیر دلایل دي او په ځانګړي ډول هغه احادیث چي د لوښو او ظروفو د پټولو په هکله راغلي دي، همدارنګه هغه احادیث چي هغي کي د علاج امر شوی یا هم د لاسونو او خولي د مینځلو امر شوی، په همدې توګه هغه احادیث چي په لارو، او ونو لاندې او عامه ځایونو کی د لوي او وړوکي قضاء حاجت څخه منع راغلی تر څو نور خلکو ته یی بدې اغیزې ونه رسیږي.

نو اسلام دین د داخلی او خارجی د پاکوالي او نظافت دین دی، الله تعالی فرمایی:«وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ» (مدثر ک۴) یعنی جامي او کالی دی پاک کړه، په همدې توګه الله تعالی فرمایی: «إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ» (دبقری سوره ۲۲۲) یعنی الله تعالی د توبه کوونکو او نظافت لرونکو سره مینه کوي.

همدا ده چی اسلام د اودس، غسل او د کورونو او د میدانونو په نظافت او صفایی ټینګار کوي.

د دغه دلایلو څخه یو هم د ابو ذر رضی الله تعالی عنه حدیث دی : عن أبي ذر رضی الله تعالی عنه: عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا فَوَجَدْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذَى يُمَاطُ عَنْ الطَّرِيقِ وَوَجَدْتُ فِي مَسَاوِي أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ». یعني: ابو ذر رضی الله عنه وایي چي نبي علیه السلام فرمایلی دي: ماته زما دامت نیک او بد اعمال را وړاندي شول، ما په نیکو اعمالوکي د لاری څخه د خزلو لري کول هم ومیندل، او د بدو اعمالو تر مینځ مي هغه بلغم ولیدل چي په مسجد کی ښکاره پراته و او چا ورباندي خاوري هم نه وې اړولی.